مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی ۰۸ / ۰۴ / ۲۰۲۶

# د درې نیم ټریلین ډالرو کمپنۍ، Apple پنځوس کلنه شوه



د بشري تاریخ په آرشیف کې، د معلوماتي ټکنالوژۍ د یوې کمپنۍ ارزښت د افریقا د ټولي وچې د ۵۴ هېوادونو له مجموعي کلنۍ بودیجې څخه درې چنده لوړ شو. دریو ځوانو انجنیرانو، ستیو جابز چې پلار یې د سورېې کډوال دی، ستیو وزنیاک او رونالډ وین د کلیفورنیا د سانفرانسیسکو بې ایریا په یوه کوچني ګراج کې د اپل بنسټ کېښود. د ۱۹۷۶م کال په اپریل کې پیل شوي دغه حیرانوونکي سفر د اته ملیاردو وګړو سور او ساره په یو مزي وتړل. نن زموږ د خاورین کلي له هرو دریو کسانو څخه نږدې یو کس د اپل یو محصول (لپ ټاپ، ټلیفون، کمپیوټر، ځیرک ساعت، آیپاډ، اپل تي وي، وژن پرو، هېډ فون او ډېسک ټاپ) کاروي. اپل یوازې وسایل نه دي جوړ کړي، بلکې یو نوی ذهنیت یې هم رامنځته کړ چې د یو نوښت برپا، تل له خطر سره مل وي.

په ۱۹۸۴م کال کې اپل د مَکِنتاش په رامنځ ته کولو سره، کمپیوټرونه عامو خلکو ته اسانه کړل. په ۱۹۸۵م کې ستیو جابز اپل پرېښود، خو په ۱۹۹۷م کې بېرته ورستون شو او د بریا لارې ته یې سیخ کړ. آیپاډ iPod په ۲۰۰۱م کال کې بازار ته را ووت او د ډیجیټل موسیقۍ د قانوني ډاونلوډ لپاره یې نوې کړکۍ پرانستله. که څه هم دا د خپل نوعیت لومړنی نوښت نه وو، خو د ښکلي ډیزاین په مرسته مشهور او د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسېد. په ۲۰۰۷م کې آیپاډ ټچ مارکېټ ته راغی او د آیفون تهداب کېښودل شو. جابز لومړنی آیفون داسې اعلان کړ: «نن آی پاډ، ټیلیفون او انټرنېټ درې واړه یو واحد سیستم شو او نور جلا جلا وسایل نه دي» په ۲۰۲۵م کال کې له ۲۴۷ میلیونو څخه زیات آیفونونه پلورل شویدي.

د اپل کمپنۍ چې همدا اوس پنځوس کلنه شوه، د ټکنالوژۍ په ډګر کې یې بنسټیز بدلونونه رامنځ ته کړل؛ ولی د پام وړ برپاوو ترڅنګ یې ځینې څرګندې ناکامۍ هم تجربه کړې. د بېلګې په توګه؛ «اپل ویژن پرو» له وروستیو مهمو محصولاتو څخه ګڼل کېږي، خو څه ناڅه پیکه وخوت. د اپل مرکزي ودانۍ چې د ټایر په بڼې ډیزاین شوې، څلور منزله ده او د ۱۴ زرو موټرو د پارک کولو ظرفیت لري. د څلورو کلونو په موده کې (۲۰۱۳- ۲۰۱۷م) د پنځه ملیارده ډالرو په لګښت جوړه شوې او په یو وخت کې نږدې ۱۴ زره خلک په کې کار کوي. دا ټوله سیمه چې Silicon Valley ورته وایي، ما له نږدې څخه لیدلې؛ ډېره ښکلې سیمه ده او اپل له ګوګل او فیسبوک سره په نږدې واټن کې موقعیت لري.

ستیو جابز په ۲۰۱۱م کې ومړ او ټیم کوک Tim Cook د شرکت مشري پر غاړه واخیسته. ځینې شنونکي باور لري چې د جابز له مړینې وروسته د اپل د چټکو نوښتونو بهیر لږ ورو شوی او پاملرنه یې د موجوده ټکنالوژیو ښه کولو ته اړولې ده. د اپل اوسنی اجرائیوي رئیس، شپېته کلن ټیم کوک چې د امریکا د آلاباما په ایالت کې زېږېدلی؛ له امتیازاتو سره کلنی معاش یې ۷۴ میلیونه ډالره دی. اپل واچ په ۲۰۱۵ کال کې، د ټیم کوک تر مشرۍ لاندې معرفي شو. دا وسیله اوس د نړۍ تر ټولو ډېر پلورل کېدونکی ځیرکه ساعت دی او د روغتیا په برخې کې یې مهم بدلونونه راوستي، لکه د زړه د ټکان څارنه، د لوېدو کشف او نور ډېر څه...

تېرکال د ټولي افریقا کلنی بودیجه څه کم یو ټریلین ډالره وه، خو د اپل مجموعي ارزښت له درې اعشاریه شپږ ټریلین ډالرو څخه زیات وو؛ «یو ټریلین، زر ملیارده کېږي». د پانګوني د ستراتیژۍ کارپوهه، اِیما وال وایي: «د اپل کامیابي یوازې د ټکنالوژۍ له امله نه، بلکې د پیاوړي بازار میندني له کبله هم ده. اپل خلکو ته یو خوب وپلوره یعني دا مفکوره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولۍ

يي عامه کړه چي براند (نښه) يي د محصول په اندازه مهم دی. د اپل کيسه ښيي چي نوښت او د کاروونکو تجربه د بريا مهم عوامل دي، خو هره نوې مفکوره حتما بريالۍ نه وي». امريکايي ژورناليسته، کارا سويشر وايي: «آيفون يوازې تخنيکي وسيله نه ده، بلکي اپل يو داسي احساساتي عنصر جوړ کړی چي هرڅوک يي په مېني سره کاروي».
په دې وروستنی نيمي پېړی کي د علم مباح د دغو هوډمنو انجنيرانو دا انساني معجزه؛ يوازې د ښه فکر زېږنده نه ده بلکي د نوښت، دوام او زحمت پايله يي هم ده. دوئ هره ناکامي يو فرصت ګڼلی او په ايرو کي د لعلونو له لټون څخه خوند اخيستی. له سيالانو سره سيالي د دم او چف په ځای، په ساينس او ټکنالوژی کي ترسره کېږي. کليوال، ښاري، امي، ميا او ملا ټول مني چي توره او شمله د عزت سمبولونه دي، لاکن مګرم خبره د هغه چا ميره وي چي قلم يي له رنګونو، ذهن يي له نوښتونو او جيب يي له پيسو ډک وي.
الله مي دې زاړه ايمان ته خبر کړي!
...............................
په مننې سره؛ ما په دې ليکنې کي د ګوګل، بي بي سي عربي، Apple له سايت، Financial Times او AI څخه استفاده کړېده.



[د ليکوال نوري ليکني په دی لينک کي ولولئ](#)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ